**بسم الله الرحمن الرحيم**

## په اوولس کلنه واکمنۍ کې يې هم اسلام بريالی نه و او اوس هم اسلام ماتې نه ده خوړلې

**خبر:**

د اکرام امام اوغلو سلگونه زره پلويان د جون په ۳۰مه د استانبول د ښارگوټي تالار ته نژدې راټول شوي وو، څو د نوي ښاروال په توگه د هغه نوې دنده ونمانځي. دا په تېرو دريو مياشتو کې دويم ځل دی، چې د ټاکنو مرکزي کمېټه د مخالف لوري نوماندانو ته د تاييد سند ورکوي.

**تبصره:**

د استانبول د ښاروالۍ په ټاکنو کې د اتاترک د گوند (خلق-جمهوريت) غړي اکرام امام اوغلو بريا د ولسمشر رجب طيب اردوغان گوند (عدالت-پرامختيا) ته چې ماتې يې نه منله، سخته ضربه وه. په تېره اوولس کلنه واکمنۍ دا لومړی ځل دی چې د اردوغان گوند د استانبول په ټاکنو کې ماتې خوري.

د اردوغان گوند پر دې سر بېره د ۲۰۱۹م کال د اپرېل د ۳۱ مې په سيمه ييزو ټاکنو کې هم په دوو لويو ښارونو (انقره او ازمير) کې ډېرې څوکۍ بايللې وې. په داسې حال کې چې اردوغان مخکې د استانبول د ښاروالۍ په اړه ويلي وو: څوک چې له ځان سره استانبول ولري، مانا دا چې ټوله ترکيه له هغه سره ده. د استانبول په ډېرې ټاکنو کې د اردوغان د گوند ماتې د هغه د شهرت کمېدل ښيي؛ ځکه له ډېر وخت راهيسې د هغه گوند په دې نه دی توانېدلی چې په يوازې توگه ترکي دولت جوړ کړي، بلکې له نورو سياسي گوندونو سره هوکړې کولو ته اړ شوی دی.

د اردوغان د شهرت د کمښت يوازنی لامل هغه تگلاره ده چې د واکمنۍ پرمهال يې گوند منلې او تصويب کړې ده. گوند يې په داسې حال کې د اسلامي احساساتو چيغې وهي، چې تل يې له اتاترک څخه پاتې شوی سېکولر سيستم پلی کړی دی. د عدالت او پراختيا گوند ډېری مهال د موډرن اسلام هغه بېلگه بلل شوې، چې له پخوا راهيسې په واک کې ده. له کلونو راهيسې د اردوغان گوند په واک کې د پاتې کېدو علت د نوموړي گوند رښتينولي نه، بلکې امريکايي ملاتړ دی. امريکا په ترکيه کې د انگريزانو د هغه نفوذ ختمول غواړي، چې لسگونه کلونه يې د اتاترک د گوند (خلق-جمهوريت) په واسطه ساتلی و. د ترکيې مسلمانان بيا د دې خلاف ورځ تربلې د اردوغان له تش په نامه ژمنو او اسلامي احساساتو څخه ناهيلي کېږي.

ځينې کارپوهان د استانبول د ټاکنو پايلې د اسلام ماتې بولي؛ خو د اردوغان ملاتړي بيا استدلال کوي چې د جولای د ۲۳مې ټاکنو دوی اړ کړل، چې د محمد صلی الله عليه وسلم او ابوجهل ترمنځ يو کس وټاکي. موږ بيا وايو، چې د اردوغان اوولس کلنه واکمني د اسلام بريا نه وه؛ ځکه په ټاکنو کې د اردوغان له هرې بريا وروسته به دا ويل کېدل چې اسلام پال واک ته ورسېدل، خو اسلام هېڅکله هم واکمن نه شو.

د استانبول نوي ټاکل شوي ښاروال اکرام امام اوغلو د جون په ۳۰مه خپلو ملاترو ته د خبرو پرمهال وویل: د استانبول خلکو له ډیموکراسۍ څخه سرغړوونکو ته ښه درس ورکړل. نن موږ ویلی شو چې، ژوندی دې وي جمهوریت! ژوندۍ دې وي ډیموکراسي!

د یادونې وړ ده چې اردوغان په ترکیه کې خپله هره ټاکنیزه بریا د ډیموکراسۍ بریا بللې. په حقیقت کې دواړه مخالف ګوندونه د ډیموکراسۍ، سېکولرېزم او کپیټلېزم له ارزښتونو څخه دفاع کوي او دا هغه څه دي چې له مسلمانانو او د ترکیې له خلکو څخه پردي دي. اردوغان به د اتاترک د مړینې په هر تلین کې د هغه قبر ته نژدې ودرېد او خلکو ته به یې په ترکیه کې د سېکولرېزم په پاتې کېدو ډاډ ورکاوه. له همدې امله موږ په ترکیه نه تېر اوولس کلونه د اسلام بریا بولو او نه هم د استانبول د ښاروالۍ له ټاکنو وروسته اسلام ناکام بللی شو.

په پایله کې وایو، چې د هرې ورځې په تېرېدو سره د ترکیې مسلمانان خپل سېکولر او پانګوال افکار په اسلامي مفاهیمو سره مینځي او لرې نه ده چې یوه ورځ به په ترکیه کې د ریښتینو اسلامپالو په واکمنېدو سره اسلام هم واک ته ورسېږي.

**په اکراین کې د حزب التحریر د مرکزي دفتر ریس ( فاضیل امزویا) لخوا**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**